**د مسؤلیت د رفع کولو یادښت :**دا سند په غیر رسمي شکل له یو رسمي سند څخه ژباړل شوی دی، مګر ژباړه یې د هیڅ دولتي اداري لخوا نه ده تائید شوې .کیدای شي ټوله هڅه د ژباړې د کره کولو د داډ لپاره شوې وي .مګر دا هم امکان لري چې د اصلي سند او ژباړې ترمنځ د کلماتو په ټاکلوکې نواقص یا توپیرونه موجود وي

**د افغانستان اسلامي امارت**

**د اقتصاد وزارت**

**د غیر دولتي مؤسسو د همغږۍ ریاست**

**د صدور نېټه: ۱۴۰۱/۱۲/۴ هـ ش/ /۱۴۴۴ هـ ق**

**د صادرې شمېره: ۵۱/۵۲**

---

**د ولایتونو د اقتصاد ریاستونو ته! فراه**

څرنګه چې تاسې ته ښه معلومه ده کومې پروژې چې په ولایتونو کې پلي کېږي د پروژې په ختم کې د سکتوري ادارې څخه خپله تائیدي اخلي او همدارنګه تاسې ته ښه معلومه ده چې اقتصاد ریاست د دندو څخه یوه هم د غیر دولتي مؤسساتو همغږي او څارنه ده چې په ولایتونو کې د نومورې ادارې په حیث شتون لري نو باید مؤسسات د تائیدۍ مکتوب د نومورې ادارې څخه ترلاسه کړي.

د ولایتونو د اقتصاد رئیسان باید په جلسو کې روښانه کړي چې د اقتصاد وزارت د مؤسسو د ټولو فعالیتونو مسئوول دی.

1. د پروژې د تطبیق څخه وروسته څارنه او بررسي، د پروژې د تطبیق څخه وړاندې تحلیل او ارزیابي، د کورنیو او بهرنیو مؤسسو پلټنه
2. د مؤسسې د جوازلیک ترلاسه کول
3. د مؤسسې ټول منقول او غیرمنقول اجناس دې وزارت سره ثبتېږي
4. هغه توکي چې د معافیت وړ وي
5. ټولو مؤسسو لپاره د پروژو د نظارت بهرنیو کارمندانو د استخدام ویزه اخیستل د اقتصاد وزارت دنده ده.
6. مهمه یې دا ده چې تر څو د پروژې په پای کې د ولایت د اقتصاد ریاست موافقه نه وي، راپور یې د منلو وړ نه دی. او سکتوري ادارې د مؤسسو مسئوولیت نه لري البته یوازې د هغه پروژو مسئوولیت په دوی پورې تړاو لري چې د اقتصاد محترم وزارت له خوا معرفي کېږي. بیا هم د ولایتونو د اقتصاد ریاستونو ته راپور ورکړي او ځواب ووایي.

**په درناوي**

(لاسلیک)

**مولوي محمد عالم "جمیل"**

**مالي، اداري او د همغږۍ معین**

دا سند د حقوقو د پراختیا نړیوال سازمان (IDLO)په واسطه د افغنستان د قانون د حاکمیت څارونکې ویبپاڼه (ARLO)پروژې لپاره ژباړل شوی دی .د ARLOپه اړه د نورو مالوماتو ترلاسه کولو لپاره مهرباني وکړئ زمونږ ویبپاڼې www.arlo.onlineته لاړ شئ .